مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۱/۱۲/۰۵

# د روغي هيله

زړه کی می سل رنګه ګیلې دی خو کولی نه شم
وایم چی هرڅه به زغمـمه، خو زغملـی نه شم

ځکه می خولې ته څه خبری ګډې وډې راشـی
بیـا پری خـپـه یـمه خــو تـللي ستـنولي نه شم

زما په زړه خـو ته پوهـیـږی چی کـیـنـه نه لـری
زه ستا په خیر کرکه کینه زړه کی ساتلی نه شم

پرون تیرشـویدی په تیر کی ژونـدون کله کیږی
زه نن کی ژونـد کـوم پرون ته ســتـنـیدلی نه شم

تا زه بـخـښـلـی وم پرون او ما وي ته بـخـښـلـی
زه ســتـا په خــیر خپلو عدو نه تـیریدلی نه شم

که په ما سل ظلمونه سرپه سرشی، هم دی وشیٔ
خـو زه یـو ځـل هـم په بل چا ظالـم کیدلی نه شم

ما او تا دواړو رب ته ايښـی د تسلیم ســجده ده
که ته منـکر نه يی ، زه هـم مـنـکـریـدلی نه شم

راځه چی روِغــه ســره وکړو کـلیوال شو سـره
ځو به په ګــډه مخ ته دواړه ځانته تللی نه شم

دسمبر/۲۰۲۱/۴
تورنتو - کانادا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ